# د "خدائي خدمتګار" ډرامې فکري او تنقيدي جائزه

# An Analysis of Ideological and Critical Aspects of Drama Khudai Khidmatgar

Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali*

Dr. Tariq Khan * *

**Abstract:**

Khudai Khidmatgar was a movement built by Khan Abdul Gaffar Khan (Bacha Khan) and his companion's in1929 for the social reformations on Pashtuns' land. The ends of that movement were not favorable for British rulers who ruled over India and there for they reacted violently on its members. Fazal Kareem of Pubbi wrote a drama, under the same title "Khudai Khidmatgar", to sketch the entire scenario of that time, which was published in 1932. But after its publishing it was censored by the British rulers to avoid its unfavorable consequence for them. In 2012, it was republished by Bacha Khan Research Center with the efforts of Dr. Khalid Khan Khattak who found it at British Library London. In this paper, we attempted to present an analysis of its critical and ideological aspects to see how they were committed to their ideology and what they contributed to Pashto literature.

**Key Words:** Khudai Khidmatgar, Fazal Karee Non-violence, Pashto Drama.

* Assistant Professor, Department of Pashto, AWKUM

* * PhD in Pashto, UOP

د پښتنو پۀ خاوره باندې ېبلا ېبل يرغلګر راغلي دي او دا خاوره او قام ئې وخت پۀ وخت لوټلے او وهلے دے. د تاريخ پۀ اوږدو کښې مونږ وينو چې د پښتنو پۀ خاوره د دغه ېبلا ېبلو يرغلګرو خلاف مزاحمت شوے دے. خو چې کله مونږ شلمې پېړۍ ته ګورو نو لکه د نورې دنيا پۀ شان بلخصوص پۀ مشترکه هندوستان کښې هم د مزاحمت تحريکونه رامنځ ته شوي دي. د پښتنو پۀ خاوره د نورو تحريکونو نه ورته د انجمن اصلاح افاغنه (قيام ۱۹۲۱) او بيا د خدائي خدمتګار تحريک (قيام ۱۹۲۹) هم منځ ته راځي چې بنيادي فلسفه ئې عدم تشدد وه او د دغه فلسفې پۀ بنياد ئې د خپل تحريک صف بندي کوله. پۀ دې تحريک کښې د قلم خاوندانو، شاعرانو اديبانو هم ډېره لويه ونډه درلوده. ياد تحريک کښې خو يا ليکوالان شاعران اديبان د ځان ملګري کړل او يا د دې د تحريک پۀ سيورې او تربيه کښې منځ ته راغلي وو. دې تحريک د ادب يو داسې ډله او کېډر رامنځ کړو، چې دوي پۀ خپل ادبي زيار د پښتو جديد ادب پۀ ونډه کښې بنستيز کار وکړو. د پښتو پۀ جديد ادب کښې ئې د نظم و نثر نوي نوي اصناف رامنځ ته کړل او د دغه ادبي زيار پۀ حساب ئې ځانونه دوړومبي صف حقدار هم وګرځول. "د هم دغه قامي او ملي تحريک (نهضت) د خېتې نه چې کوم ادبي او علمي تحريک را برڅېره شوے دے، زمونږ نقادان او پوهان ورته د "خدائي خدمتګار ادبي تحريک" نامه ورکوي ځکه چې د حضرت باچا خان د پښتنو شاعرانو او اديبانو د رايو ورکولو او د قامي کاروان برخه جوړولو دغه عمل هم باقاعده يو شعوري او فکري عمل ؤ چې هغه ژبه چې شاعرانو او اديبانو ئې تل د قام د سترګو او دماغو کردار ادا کړے ؤ..... د پېرنګي خلاف د مبارزې لپاره قام ته د پوهه، قام پرست او ساهو قلمکارو ضرورت ؤ ځکه نو باچا خان هم د دغه روايتي کاروان نه شاعران او اديبان را اوچت کړل او د قام پۀ ملي مبارزه کښې ئې ورله د هر اول دستې کردار ورکړو"[1]

د خدائي خدمتګار تحريک د پاره پۀ منظمه او شعوري طور باندې شاعرانو اديبانو ليکل کول. ياد تحريک د خپل مرام او د پښتو ژبې او ادب د پاره وړومبے يو اځينے تول پۀ تولۀ پښتو رساله د "پښتون" (۱۹۲۸) پۀ نوم هم شروع کړه. پۀ خپلو

ازادو سکولونو کښې ئې د طرحي مشاعرو او ادبي غونډو سره د سټېج ډرامو په ذريعه هم په خپل اولس کښې شعور رابېداروله. په دې شاعرانو اديبان کښې فضل محمود مخفي، خانمير هلالي، عبدالاکبر خان اکبر، خادم محمد اکبر، عبدالخالق خليق، امير نواز خان جليا، فضل الرحيم ساقي، عبدالحکيم ستي، ماسټر عبدالکريم سيده بشري بېګم، الف جانه خټکه، مهدي شاه باچا، ارباب محمد اسلم، سعادت خان جلبل، ميا اکبر شاه، خان مير هلالي او فضل کريم د پېبو سره داسې نور د خصوصي پاملرنې وړ نامې دي.

فضل کريم د پبو (۱۹۰۹-۱۹۹۷) هم د خدائي خدمتګار تحريک د پاره د شلمې پېړۍ په څلورمه لسيزه کښې لکه د نورو خدائي خدمتګارانو غوندې په شعوري توګه ليکل کړې دي چې پکښې ئې يوه ډرامه ئې د خدائي خدمتګار په نامه باندې ليکلې ده.*

دا ډرامه په ۱۹۳۲ کښې چاپ شوې ده او د چاپ نه پس سمدستي انګرېز قابض سرکارضبط کړه. په دې ډرامه د بحث نه وړاندې غواړم چې د خدائي خدمتګار فضل کريم د پېژندګلو په اړه څو کرښې نقل کړم. د دوي د ژوند او سياسي مبارزې په اړه باندې زبېر حسرت ليکي:

> " د "خدائي خدمتګار" ليکونکے فضل کريم د سيد اکبر زوے او د محمد عمر نمسے ؤ چې په کال ۱۹۰۹ کښې په پړانګ چارسده (هشتنغر) کښې زېږېدلے ؤ او هم دغه تاريخ ئې په شناختي کارډ کښې هم درج دے. فضل کريم ابتدائي تعليم په پړانګو چارسده کښې حاصل کړو. کله چې ئې پلار پېبو تحصيل نوښار ته په کډه راغے نو دلته ئې خپله محله د زرګرانو محلې په نوم اباده کړه. فضل کريم د پېښور ګورنمنټ هائي سکول نمبر ۱ نه لسم پاس کړو او په رزمک (کرمه ايجنسۍ) کښې د ټي اينډ ټي يعني ټېلي فون اينډ ټيليګراف په محکمه کښې ئې د اپرېټر په عهده ملازمت شروع کړو، خو په کال ۱۹۲۲ کښې چې د سول نافرمانۍ په

* ياده دې وي چې فضل کريم د پبو د خدائي خدمتګار نه ورته يو بله ډرامه هم ليکلې ده چې د خدائي خدمتګار ډرامې په اخره کښې ئې اشتهار په دې ټکو کښې راغلے دے:
"د نياز مند (فضل کريم) دا دوېمه ډرامه به هم ډېر زر د قوم په خدمت کښې پېش کولے شي. په دې کښې د ۱۹۳۰ د سياسي جنګ واقعات د ډرامې په شکل کښې ليکلي شوي دي. امېد دے چې شوق مند صاحبان به خپل نومونه د خريدارۍ په رجسټر کښې درج کولو د پاره مخکښې راولېږي." بحواله: کريم، فضل، خدائي خدمتګار ډرامه، پېښور، امن پرنټنګ پرېس، دوېم چاپ، جون ۲۰۱۲، مخ،۶۸

تحریک کښې پښتنو سرکاري ملازمتونو نه استعفي ګاني ورکولې نو
فضل کریم پۀ عظیمه قومي جذبه د میا فخر قوم حمید ګل کاکاخېل سره
مستعفي شو او بیا ئې د ژوند تر اخري سلګۍ سرکاري نوکري ونۀ کړه او
باقي پاتې ټول عمر ئې د باچا خان پۀ مشرۍ او ملګرتیا کښې پۀ خدائي
خدمتګارۍ کښې تېر کړو."[2]

د خدائي خدمتګار فضل کریم د پېبو د ژوند معلوماتو پۀ اړه ډاکټر زبېر حسرت دغه زیار کړے دے چې تلے او هلته ئې د هغوي د کورنۍ او بچو سره لیدل کتل شوي او تر ممکنه حده پورې ئې معلومات تر لاسه کړي دي خو نن هم د ځنې خدائي خدمتګارو ژوند او اثار تحقیق ته اړتیا لري. باید د دغه خدائي خدمتګارو ژوند او اثارو پسې پلټنه وشي، ځکه چې دغه کردارونه او اثار د پښتون افغان وطن د سیاست، ادب او ټولنیز ژوند اجتماعي "حافظه" او اساسه ده. د دغه تاریخي شخصیتونو او اثارو اهمیت نن هم په خپل ځاے مسلم دے. د دې نه ورته د خدائي خدمتګار تحریک سره اړونده دوه نورو لیکوالانو عبدالخالق خلیق او عبدالاکبر خان اکبر هم د خدائي خدمتګار پۀ نوم ډرامې لیکلې دي البته د فضل کریم د پېبو د لیکلې "خدائي خدمتګار" ډرامې انکشاف مذکر شاه خلیل پۀ اول ځل کړے ؤ، دوي چې کله د عبدالخالق خلیق ژوند او ادبي خدماتو باندې د پښتو څانګې پېښور پوهنتون نه ایم فل کولو نو دوي د "انډین افس لائبرېرۍ برطانیه" سره خط و کتابت وکړو چې د عبدالخالق خلیق د لاس لیکلې ډرامه خدائي خدمتګار پیدا کړي دوي په دغه لړکښې لیکي:

"ما تر خپله وسه د دې ډرامې د پیدا کولو کوشش وکړو، خو د بده مرغه د
ډېر کوشش باوجود هم په لاس رانغله، دې لړ کښې ما "انډین افس
لائبرېرۍ برطانیه" ته هم خطونه ولېږل او ځوابونه ئې هم راغلل خو هلته نه
هم د دې ډرامې کاپۍ پۀ لاس رانغله البته دا معلومه شوه چې هم پۀ دې
نامه یوه ډرامه د فضل کریم لیکلې شوې پۀ انډین آفس لائبرېرۍ کښې
محفوظه ده."[3]

مذکر شاه خلیل چونکې د عبدالخالق خلیق لیکلې ډارمې خدائي خدمتګار پۀ لټون کښې ؤ خو دوي ته دا معلومات د خط پۀ ذریعه باندې د دغه مذکوره کتابتون نه د

محمد عیسي ولي رالېږلي چې دغه خط دوي ته ۱۴ اکتوبر۱۹۹۹ کښې تر لاسه شوے. دوي دغه خط بیا پهٔ خپل تهیسسز کښې هم چاپ کړے دے او د فضل کریم د پبو د لاس لیکلي خدائي خدمتګار ډرامې خو پانې ئې هم د انډین افس لائبرېرۍ نه تر لاسه کړې وي. خو دا ډرامه پهٔ بشپړه او پوره شکل کښې ډاکټر خالد خان خټک راوړې ده او د باچا خان ریسرچ سنټر پېښور نه ئې پهٔ جون ۲۰۱۲ کښې چاپ کړې او خپره کړې ده . د دې ډرامې پهٔ اړه ډاکټر خالد خان خټک لیکي:

"د پبو د فضل کریم دا ډرامه خدائي خدمتګار پهٔ ۱۹۳۲ کښې شایع شوې وه خو د چاپ نه سمدستي پس انګریز ضبط کړه ځکه چې پهٔ دې کښې خلقو ته غږ شوے وه چې د باچا خان پهٔ راهنمایۍ کښې د انګرېز خلاف راپاڅي .....مذکر شاه خلیل ما تـه پهٔ یو خط کښې د دغې نسخې ذکر وکړو خو زهٔ پرې سم پوهه نهٔ شوم، تېر کال پهٔ ۲۰۱۱ کښې د پروفېسر ډاکټر فضل الرحیم مروت چئیرمېن ټکسټ بک بورډ پهٔ حکم ما پهٔ برټش لائبرېرۍ کښې ځنې کتابونو د لټون پهٔ دوران کښې دا چاپ نسخه ومونده او د پنسل پهٔ نقل مې ترې پهٔ خپل لاس یو صفا قلمي نسخه تیاره کړه او چئیرمېن صاحب ته مې وسپارله "[4]

د خدائي خدمتګار تحریک سره اړونده ادیبانو لیکوالانو لیکونه اکثر د پېرنګي استعمار د جبر ښکار شوي دي او ضایع کړل شوي دي. د عبدالاکبر خان اکبر د لاس لیکلې ډرامې" تعلیم جدید " " تهذیب جدید" او "درې یتیمان" چې د زمیندار او تربور پهٔ نومونو هم شهرت لري، د امیر نواز خان جلیا "درد" ډرامه او د عبدالخالق خلیق ډرامه "خدائي خدمتګار" تر ننه پورې ورکې دي او د وخت او پېرنګي سرکار د جبر ښکار شوي دي. البته د امیر نواز خان جلیا ډرامه "درد" پهٔ کال ۲۰۱۱ کښې ډاکټر خالد خان خټک پهٔ زیار "انډین آفس لائبرېرۍ" کښې دریافت کړه خو دا نورې مذکوره ډرامې تر ننه زمونږ سره پهٔ څهٔ کتابي او قلمي نسخه نشته دے. دا ډرامه "خدائي خدمتګار"چې پهٔ کښې د هغه وخت مشترک هندوستان کښې د ازادۍ د مبارزې او بلخصوص د پښتونخوا د سیاسي او ټولنیزو حالاتو بشپړه نقشه پکښې رانښکل شوې ده. لکه پهٔ ناوېشلي هند کښې د پښتنو پهٔ خاوره هغه وخت کښې څه روان وو؟ د انګرېزانو او د

انګرېزانو د جاسوسانو مخبرانو له خوا به خدائي خدمتګارو سره څنګه سلوک کېدو؟ د خدائي خدمتګارو مبارزه څه او څنګه وه؟ او فکري بنياد ئې څۀ ؤ؟ د خدائي خدمتګار هم دې ډرامې پېل د شعر د ازدئ پۀ اړه باندې شعرونو نه کېږي:

سرې مې کړې جامې پۀ رنګ د قوم کښې نن رنګدار يمه
هر څۀ چې ظالم پۀ ما کوي، ورته تيار يمه
ملک و مذهب دواړه نن راګېر پۀ بند د غېرو کښې
ځکه پۀ کوشش د ازادئ کښې جان نثار يمه
وتې پۀ طلب د ازادئ يمه له کوره زۀ
ډېر دې خاماران پکښې روان پۀ داسې لار يمه
نن د ازادئ ګلاب بندي پۀ جېل خاني کښې دے
ځکه جېل خاني ته نن ورتلونکے پۀ تلوار يمه
نن زمونږ سرکار ده مېلمستيا کړې زلمو لره
ځکه نن ، سبا زۀ هم مېلمه د دې سرکار يمه
مۀ کوه ناصحه نصيحت دې نن بېکاره دے
زۀ پۀ ازادئ باندې عاشق پۀ زړۀ ناچار يمه"[5]

يو خدائي خدمتګار پۀ سره وردئ کښې ولاړ د جوشه ډک شعرونه هم وائي او خلکو ته دا احساس او خبر هم ورکوي چې زمونږه مال حال، عزتونه، ناموسونه، وطن او عن تر مذهب او عقيدې پورې هر څۀ انګرېز او د انګرېز سرکار نيولي دي او زمونږ د ټولنې ټول وقار او اقدار ئې چقولي دي. د ټولنيز ژوند ټوله سماجي ډهانچه ئې د محکوميت د يو خطرناک رنځ سره مخ کړې ده، دغسې انګرېز سامراج د محکوميت ټولې بدئ او نفسيات پۀ ټولنه پيچکاري کړې وې. د ډرامې پۀ پېل کښې غلامي ډېر پۀ منظم شکل کښې سواليه (؟) نشان ته راولي او د خپل د ازادئ د پاره دليل هم وړاندې کوي. د خدائي خدمتګار تحريک سالار د انګرېز حکومت او قبضه پۀ دې ټکو کښې خپل اولس ته بيانوي او وائي:

"مګر وایه! داسې یو قام دې هم لیدلے دے چې اووه زره میله نه د تجارت پـهٔ جامـه کښـې راشـي او پـهٔ پـوره براعظم قبضـه وکـړي هـو! بې شـکه دا بـه دې لیدلي وي چې يو فاتح قوم د حملې پهٔ وخت پهٔ ډېره بې رحمۍ سره قتل عـام وکړي، مال لوټ کړي کورونه وسېزي او پـه ملک قبضـه وکـړي او ورځ پـهٔ ورځ د دې وطن د ذلت او تباهۍ کوشش کوي دولت ئې لـوټ کـړو، صنعت ئې تباه کـړو، حیا او غېرت ئې رخصت کـړل، د مـذهب نـه ئې خلق بېګانه کـړول، د نفـاق اور ئې کـور پـهٔ کـور ولګـوۀ، پـهٔ تباه کـن تعلیم ئې خلق پـهٔ غلامۍ کښې نور هم کلک کړل."[6]

د پېرنګي د پاره خدائي خدمتګار تحريک يو مضبوط خنډ ؤ، ځکه چې خدائي خدمتګارو د اولس روزنه او تربيت د شعور پهٔ زور کولو د سماجي انصاف او سماجي شعور عـام کولو د پاره د اولس د ټولنيز ژوند د بيا سر دوباره د اصلاح کول وو. کـوم "tools" چې پهٔ ناوېشلي هند او بيا پهٔ خصوصي توګه د پښتنو پهٔ ضد باندې پېرنګي قابض کارولي وو. کومې ټولنيزې خامۍ او خرابۍ ئې چې پيدا کړې وې لکه، تقسيم در تقسيم، تربورولۍ، مذهبي تعصب، مذهبي فرقه واريت، د زمکو وېش، د بډو رشوت، د اسل نسل، رنګ او داسې نورې خرابۍ ئې پيدا کړې وې. د خدائي خدمتګارو وړومبے هدف او وظيفه د دې قـام اصلاح کول وو دا ټولنيزې خرابۍ لـر کول وو. چې کله به هم خدائي خدمتګارو دغه مروجه ټولنيزو بدو او بدو رسمونو د اصلاح کولو هڅه کوله نو حکومت او عن د خپل کور خلکو به ئې هم مخالفت کولو د دې مطلب دا دے چې پېرنګي سامراج دومره ټولنيزې، سماجي بدۍ او خرابۍ پهٔ اولس کښې خورې کړې وې چې دغه خرابۍ او بدۍ بيا د دوي عمومي نفسيات جوړ شوي وو. لکه چې پهٔ دې ډرامه کښې د يو خدائي خدمتګار مشر ورور خپل کشر ورور د ټولنيزاصلاح او سياسي عمل نه منع کوي. خو هغه کشر ورته په ښه په وياړ سره وائي چې د قـام، وطـن، اولس او ديـن خدمت ځوک کوي نو هغه مجرم دے او دا حکومت ئې جېل ته بوځي چې دا انصاف نۀ دے لهذا زۀ نـۀ شـم منـع کېـدے. پـهٔ دې ډرامـه کښـې چې د خدائي خـدمتګار سـترکردار يعنـي (Main Role) دے. هغه خپله مدعا خلکو ته پهٔ دې ټکو بيانوي:

"د ملک ازادي خپل مقصد وګڼئ، هندو، سکھ، عیسائي او ټول
اوسېدونکي د هندوستان خپل د وطن ورونه وشمېرئ. په اخره کښې
تاسو مکمل دلاورۍ سره هغه ټولو تکلیفونو او مصیبتونو ته تیار شئ
کوم چې د حکومت له طرف نه پېښېږي او د عدم تشدد په اُصولو سره خپل
لاس پښې په قبضه کښې ساتئ چې ستاسو له طرفه په پرامن مخلوق
کښې نقصان رانهٔ شي او تر څو پورې چې قام په خپلو مقاصدو کښې
کامیاب نهٔ شي تر هغې چې ستاسو په استقلال کښې کمزوري رانشي."[7]

یو خدائي خدمتګار خپلو ملګرو ته هغه اُصول په ګوته کوي کوم چې د عدم تشدد د لارې اٰزادۍ د حصول په حقیقي معنٰي کښې کنجیاني دي. د پېرنګي له خوا داسې منظم کوششونه شوي وو چې د هند او پښتنو ټولنه په مذهبي تعصب او تشدد سره په مکمل توګه ماته کړي او د خلقو تر مېنځه په مذهبي شکل کښې بد امني راولي او دوي خپل حکومت وچلوي، د "خدائي خدمتګارو" مذهبي رویه او اسلامي عقیده په دغه دوره کښې یو سپېڅلے شکل درلودهٔ، خو انګریز دغه څیز هم د دې اولس او د پښتنو تر مېنځه د یو الې په توګه استعمالول غوښتل دوي د مذهب نه یوه داسې آله جوړول غوښتل چې انساني تکریم د تبغه تېر کړي. دوي دغه "کالونائزډ ورژن د مذهب" د خپل سیاسي واک او ګټو د پاره کاروهٔ. خدائي خدمتګار په دې خبره پوهه وو چې مذهب د هر سړي خپل کار دے او د مذهب په بنیاد نفاق زمونږ په ګټه نهٔ دے. ځکه خو ئې دا وئیل چې د هندوستان هندوان، سکهان، عیسایان د خپل وطن ورونه وګڼئ. په دې ډرامه "خدائي خدمتګار" کښې ځاے په ځاے د عدم تشدد د برداشت د همت او حوصلې سبق ورکول کېږي لکه چې کله په یو خدائي خدمتګار پسې د ګرفتارۍ وارنټ راځي او هغه خلقو ته خپله وینا کوي نو ورته داسې وائي:

"زما ورونړو! زهٔ خپل تقریر ختموم مګر یو ځل به ډېر پُر زوره الفاظو کښې
استدعا کوم چې تاسو به هېڅ حالت کښې خپل اُصول پرې نږدئ خپل
سرونه ورکړئ خو د مقابل د وېښتهٔ اخستلو کوشش به نهٔ کوئ، وهل
خورئ، ټکول تېروئ مګر په بل باندې لاس مه اچوئ جېل خانې ته ځئ،
ګولیو ته سینې نیسئ مګر اُف مهٔ کوئ، خدانخواسته که چرې تاسو د دې

اُصولو خلاف ورزي اوکړه نو ستاسو دا عمل به يوه غداري اوګڼلے شي او
د قوم د ناکامۍ ذمه واري به په تاسو راځي."[8]

"دراصل عدم تشدد يو طاقت دے . څۀ رنګ چې تشدد يو طاقت دے. د عدم تشدد هم دغه شان فوج دے لکه څنګه چې د تشدد دے. خو د عدم تشدد وصيله تبليغ دے او د تشدد وصيله ټوپک دے. عدم تشدد پۀ خلقو کښې محبت پيدا کوي او همت پيدا کوي او جرات پيدا کوي او تشدد پۀ خلقو کښې نفرت پيدا کوي او ويره پيدا کوي او بزدلي پيدا کوي."[9]پۀ مضبوط هوډ او حوصلې سره د پېرنګي غونډې چالاک او طاقتور دښمن له د تحريک او د خلکو وژلو موقع نۀ ورکول، طاقتور پۀ کمزوري نۀ وراچول، پوهه شعور عام کول، مخالف له اخلاقي شکست ورکول، همت او اورېده مبارزه کول او پۀ دغه لار کښې هري قربانۍ ته "عدم تشدد" وائي او پۀ دې ډرامه کښې د عدم تشدد اکثره تاکتيکونه او اُصول بيان شوي دي. پۀ دې ډرامه خدائي خدمتګار کښې د هغه وخت ټوله سماجي، ټولنيزه نقشه رابښکلې شوې ده. پۀ هغه وخت کښې چې د پښتنو پۀ ټولنه کښې کوم "خان بهادران" يعني هغه خلق چې خپل جاګيرونه ئې انګرېزانو پۀ برکت جوړ کړي وو او پۀ مقامي کچه به ئې عام خلق او خصوصاً د خدائي خدمتګارو جاسوسي او مخبري کوله او پۀ بدل کښې ئې د حکومت نه بډې رشوتونه او جاګيرونه اخستل. د دغه "خان بهادرانو" نه انسانان پۀ اور کښې ولاړ وو هيڅوا ورته خبره نۀ شوه کولے. خو د خدائي خدمتګارو نه به ئې ډېره کوله ځکه چې پۀ هغه وخت کښې خدائي خدمتګار تحريک کوم شعور عام کړے ؤ او خلق ئې بېدار کړي وو نو دغه خان بهادران بيا په ځان پوري حيران وو:

"خان بهادر: سړيه پۀ غضب اوربدلي يو، لوښت لوښت هلکان راپاڅي د سړي نه بند خطا کړي، پخوا به سړي پري دوره دبکه وکړه کۀ څوک به لړ نېغ شو نو پۀ بدمعاشۍ کښې به مو ورکړو، پۀ ضمانت کښې به مو چالان کړو بيا به ئې تر عمره سلامونه کول، لو به ئې کولو، غوبل به ئې کولو، ګوډ چاري به ئې کوله، د خان ملک، حيا به پري جوړه وه اوس د عبدالغفار برکت دے، خان، ملک خو خلقو ته اوس سپے هم نۀ ښکاري."[10]

د انګریز پهٔ وخت کښې د هغوي خان بهادرانو خلقو سره سره قسم ظلمونه کول د یو باعزته سړي "عزت نفس" به ئې داسې مجروح کړو، انسان ته خو به ئې د انسان پهٔ نظر هم نهٔ کتل ځکه چې د "خان بهادر" خانۍ او د انګریزانو چوکۍ ته به بیا خطره وه. د یو قام د غلام کولو د پاره وړومبے هڅه اوکوشش دا وي چې د هغه قوم عزت نفس مجروح کړل شي. هغهٔ ته بدتهذیبه او غیرمهذب وئیل شي او دا د انګریز د "کالونیل دور" نه تر دې دمه د هر استعمار د وارداتو یو طریقه او لائحه عمل دے. انګریزانو ډیر پهٔ سائنټیفک طور دا عمل خپل کړے ؤ. هر کله چې به پهٔ نور هندوستان کښې اساسي دستوري اصلاحات کېدل نو د پښتنو پهٔ سیمو کښې به هغه اصلاحات نهٔ کېدل. دوي ته به ئې غیر مهذبه او وحشیان وئیل او پهٔ دې بهانه به ئې دغه اصلاحات نهٔ کول. پهٔ دې ډرامه "خدائي خدمتګار" کښې د هغه وخت د خان بهادرانو او د خدائي خدمتګارو تعلق هم پهٔ زور او شور سره لیدل کیږي. د دې تحریک مقبولیت پهٔ هغه وخت کښې دومره زیات شوے ؤ چې پلار به ئې "خان بهادر" ؤ او زوے به ئې د ازادۍ او په قام مئین خدائي خدمتګار ؤ. دلته په فقط د پلار ا زوي تر مینځه د مکالمې یو وړه غونډې بېلګه وړاندې کوم:

حبیب الله خان:

"کاکا! ټوډي بچې خانانو ته نهٔ وائي، دا هغه خلقو ته وائي چې قام پرېږدي او د خانانو سره مدد کوي ولي عبدالغفار خان، خان نهٔ دے؟ امیر محمد خان د هوتي خان نهٔ دے؟ غلام محمد خان د لوند خوړ خان نهٔ دے؟ چې رښتیا خانان دي. د هغوي خو خلق دومره عزت کوي چې دومره به چا د یو ولي هم نهٔ وي کړے خو چې دے پښتون وي او مدحې د پېرنګیانو وائي نو د دوي به څوک څهٔ عزت وکړي؟

خان بهادر:

"چپ شه بې وقوفه پهٔ خپل سود او زیان نهٔ پوهیږې تهٔ هم اخبار ګوري او پهٔ بلو بلو سر یې، بچیه! دې ته هم څهٔ فکر کوئ کنه چې د حکومت سره زمونږ تعلق نهٔ وي نو زمونږ خطابونه به پاتې شي؟ جاګیرونه به بیا راکړے شي؟

کرسۍ او د جرګو ممبرۍ به راته پرېږدي؟ عام خلق به بیا زمونږ خاورې عزت وکړي، ډالۍ ټپالۍ به بیا څوک راوړي"؟

حبیب الله خان:

زۀ منم چې دا ټول څیزونه به بیا پاتې نۀ شي مګر غرض دا دے.کۀ چرې تاسو ته څوک خان بهادر صیب ونۀ وائي نو ستاسو به څۀ نقصان وشي؟ کۀ جاګیر رانۀ کړي نو زمونږ دا فضول خرچونه به هم بیا نۀ کېږي چې نن د ډپټي صاحب ملمستیا ده، نن تحصیلدار صاحب راغلے دے. تهانه دار او ګردوار، پټواري، د پولیس سپایان، چپړاسیان خو مدام راته ناست وي. هغه خو پرېږدوه مونږ ته خو هډو پۀ جاګیر کښې څۀ ګټه نۀ پاتې کېږي او ډالۍ ټپالۍ به تاسو ته څۀ پۀ ګټه معلومېږي مګر زما پۀ خیال خو دا د غریبانو وینې زوې دي، کۀ دا بندې شي نو مونږ ته به ډېره فائده ورسي"[11]

حبیب الله خان چې یو خدائي خدمتګار دے او د خان بهادر زوے دے د پلار او زوي تر مېنځه چې کوم ډائیلاګ او مکالمه کېږي دا د خدائي خدمتګار تحریک برکت ؤ. دا "عدم تشدد" ؤ چې خبره او مسئلې ئې د دلیل او خبرو اترو پۀ بنیاد حل کولې، کۀ انګرېز "خان بهادرانو" له پېسې ورکولې نو دا د دې اولس پېسې او مال حال ؤ پېرنګي د هندوستان پۀ سرو سپینو باندې قبضه کړې وه. دا مال دولت د دې وطن د ټولو خلکو ؤ. صرف د خان بهادرانو نۀ ؤ او کۀ خان بهادرانو له ئې پېسې ورکولې هم نو د خپل قام او اولس پۀ جاسوسۍ او مخبرۍ ئې ورکولې.پۀ دې ډرامه کښې د یو "بابو" له خوا چې دغه خان بهادر چې مجسټرېټ له ئې د قام او کلي اولس جاسوسي وړې وي بې انتها بې عزتي وخوړې. او بیا هم ورته پۀ لسو روپو کښې صرف "درې" روپۍ ورکول کېږي. د دوه درې روپو د جاسوسانو او خان بهارانو سره د پېرنګي د بابو سلوک دومره پرېوتے او بې هوده ؤ چې د دوي جاسوسان او مخبران ؤ نو د آزادۍ د مبارزینو سره به ئې څۀ کړي وي؟ د "خان بهادرانو" او د هغۀ د ماجب خورو او خوشامدګرو پۀ ذریعه د خدائي خدمتګارو جاسوسي کېده، خو ولې هغوي پۀ دې معامله کښې هر څۀ ته تیار وو. ځکه چې هغوي د خپل عزت، مال حال، قام او وطن د آزادۍ او خوکالۍ پۀ مینه مست وو. او د دې د پاره ئې هر قسمه قربانۍ ورکولې. خدائي خدمتګارو د خپلې خاورې د امدان او سرو

سپینو او واک او اختیار او د ملکیت دعوه کوله او دا خبره ئې ښـه پـهٔ ډاډه زړهٔ کولـه چې خـاوره وطـن او د دې مـال حـال د دې اولـس دے. او واکمـن بـه ئې هـم تـر هـر څـهٔ عـن د حکومت پورې د دې قام وي. خدائي خدمتګارو دغه خبره ډېره پهٔ ساده ټکو کښې کوله. لکه څنګه چې یو خدائي خدمتګار د قام اولس خاورې د عزت مال حال او د اٰزادۍ پهٔ جرم کښې جېـل خانې تـه ځي او هلتـه انګرېزان مجسـټرېټ تـرې پوښـتنې کـوي نـو د دوي تـر مېنځه داسې مکالمه کېږي :

مسجټرېټ:

مګر تاسو خو اراده کړې ده چې انګرېز قتل کړئ او بادشاهي ترې واخلئ.

سالار:

زهٔ حېران یم چې مونږ دا اراده د څهٔ نه معلومېږي نهٔ خو زمونږ پـه دستور العمل کښې د دې څهٔ ذکر شته، نهٔ مونږ څهٔ داسې عمل کړے دے چې د هغې نه دا نتیجه واخستے شي، نهٔ مونږ پـهٔ ژبـه ددې دعـوې کـوؤ نـو بیـا پـهٔ کوم ثبوت سره پهٔ مونږ دا الزام لګي؟

البته مونږ پهٔ خپل ملک کښې د بني اٰدمو پهٔ شکل کښې اوسېدل غـواړو مونږ وایو چې کوم سلوک تاسو د خپل قوم سره کوئ نـو مـونږ ولـې د هغـو حقداره نـهٔ شـو ګڼلے؟ وطـن زمـونږ دے، امـدن زمـونږ د زمکـې نـه کېـږي، محنت مزدورۍ مونږ کوو نو ولې دې تاسو عېش عشرت کوئ او مـونږ دې د لوږې هلاکېږو. ؟"[12]

پهٔ خپل وطن کښې د بني آدمو غوندې اوسېدل غوښتل د پېرنګي قـام غونـدې ازادي غوښتل د خپلې خاورې او وطن امدن پهٔ خپله ولقه او اختیار کښې اخستـل، د خپل وطن امدن پهٔ خپله خوړل او د پېرنګي د پـاره پـهٔ کښـې څـهٔ نـهٔ ورکـول دا ازادي غوښتل نهٔ دي؟ دا د پېرنګي د بادشاهۍ او معاشي ګټو قتـل نـهٔ دے؟ نـو څـهٔ دي؟ دا بالکل د یو مهذبه انسان انساني، مذهبي او اخلاقي حق دے چې کـوم څـهٔ ددهٔ د وطـن دي هغه ددهٔ دي خو پېرنګي دا کله منل؟ دوي خو حق غوښتونکو تـه غېـر مهذبـه او وحشیان وئیل. ددغه خلقو، تشخص، پېژندګلو، کلتور، ژبه او د خاورې ټول وسائل دوي لوټل، دوي د پښتو وطن نه خپله کالونۍ جوړه کړې وه او دغه کالونۍ د پاره ئې

ددغه خلقو د پاره خپل اصطلاحات هم وضع کړي وو. د خپل قام وطن او اولس اصلاح کول د خپلي خاوري او وطن ازادي او د خپل وطن وسائل خپلو لاسو کښي اخستل د خان بهادرانو او د پيرنګيانو په نزد "شر، فساد" ګڼل کېدو پيرنګي دغسي هر عمل فساد او شر ګڼلو. خدائي خدمتګارو په دي لاره کښي د "عدم تشدد" مفکوري او فلسفي نه کار اخستلو او دغه لارئي د نجات ګڼله. خو پيرنګي بيا هم ددغه خلقو د پاره خپل کالونيل اسعماري اصطلاحات کارول لکه څنګه چي د يو خدائي خدمتګار او مجسټرېټ تر مېنځه مکالمه کېږي او مجسټرېټ لاجوابه کېږي نو وائي:

Magistrate

What a Wild and barbarous People than are?

Salar:

No sir, I beg to differ we are neither wildmorun civilized, it is only due to things, presence that we have been driven to these depths of degradation. Our history stand as an irrefutable and unmistaken testimony of our past glory and prosperity, we were the "Torch" Bearer of knowledge, Civilization and social reforms."

ژباړه:

مجسټريټ:

څهٔ پهٔ ځنګلي ځناورو اوړېدلے يم.

سالار:

نه جناب داسي نهٔ ده، مونږ ځنګليان او بد تهذيبه نهٔ يو، دا هر څهٔ ستاسو د راتلو برکت دے چي مونږ داسي د ذلت پهٔ تاترين کښي پرېوتي يو. زمونږ پخواني شان و شوکت د دي زبردست ګواه تاريخ (پخپله) دے او هغې ته هېڅوک غلط نهٔ شي وئيلے. د تعليم او د تهذيب د اصلاح او د نيکو خويو نو مثال د لاري مونږ وو."[13]

د مجسټرېټ سره چي کومه مذکوره کالمه د خدائي خدمتګار سالار کېږي نو دا خبره دا واضحه کوي چي د انګريز سرکار د ځائي خلکو پهٔ اړه کوم نظر درلود او د خدائي

خدمتګار تحریک بیانیه او رد عمل څۀ ښائي؟ دا خبره دا واضحه کوي چې د غلامۍ پۀ ضد دا د شعور کچه یو انقلاب ؤ.

پۀ دې ډرامه کښې د پېل نه شاعري ده، چې پکښې د خپلواکۍ پېغام او د غلامۍ کرنه کوي. د دې نه ورته دا ډرامه د پښتني ټولنې د ماحول بشپړه تصویر هم ښکاره کوي. د پښتنو د بېدارۍ او د خدائي خدمتګارو د موقف او نظر د اولسي کولو د خدائي خدمتګار تحریک د سالار بنیادي کردار هم زمونږ تر سترګو کوي. د پښتنو د ټولنیز ژوند د خرابیو او ورسره ورسره د پښتنو پۀ وطن کښې د خان بهادرانو کردار او عمل هم ښکاره کوي او تر ټولو مهمه خبره د عدم تشدد پۀ لار د دلیل پۀ لار او ورسره د هر ډول مذهبي او مسلکي کرکې نه ورته خپل موقف او مقدمه پۀ وړاندې بوتللو عمل هم مونږ وینو. پۀ دې ډرامه کښې ځاے پۀ ځاے د خدائي خدمتګار تحریک د بنیادي شعور د عام کولو او پۀ اولس کښې د هغې مقبولیت هم ښکاره کېږي. پېرنګي چې د خپل واک او قبضې د پاره کوم کوم تکنیکونه پکار راوستل او دې سره ئې د خپل واک او اختیار د ټینګ ساتلو د پاره څنګه څنګه د زور، زیاتي، جبر الې پکار راوستلې او پۀ نفسیاتي توګه ئې د خلکو غلام ساتلو الې هم ښکاره کوي. خدائي خدمتګار تحریک دغه ټولو حربو ته د مزاحمت کولو تصویر او عمل هم ښکاره کوي. دا ډرامه پۀ بنیادي توګه د خدائي خدمتګار تحریک د بنیادي فکر عدم تشدد او د هغې ټول تکنیکونو سره د پښتني د ټولنیز ژوند او ماحول نقشه ښکاره کوي. د دې سره د پېرنګي سرکار د قبضې، جبر او د خان بهادارنو د جاسوسۍ او مخبرۍ عمل هم ښکاره کوي. او تر ټولو مهم خیز د خدائي خدمتګارو هغه دلیل ؤ چې مخ ته ئې نۀ انګریز ټینګ او نۀ کوم خان بهادر دا عدم تشدد ؤ او دا د عدم تشدد زور ؤ چې د خدائي خدمتګارو سیاسي فکر و فلسفه وه چې پۀ ادبي، علمي، عملي او تاریخي شکل کښې ئې دا ډرامه "خدائي خدمتګار" څرګند حقیقت او حواله ده.

## حوالې او ماخذونه

[1]. يو سفزے، نورالامين،پښتو ژبې او ادب ته دخدائي خدتګار تحريک بخښنې، مشموله پښتون، پېښور، دريم دور، پنځلسم کال، ۱۴۸ ګڼه۔اپرېل ۲۰۲۰، مخ، ۵۰/۴۹

[2]. حسرت ، محمد زبېر، ډاکټر، تماشي (د1930 نه 1975) پورې سټېج او رېډيو ډرامې (لټون او سمون) پېښور، عامر پرنټ اېنډ پبشلرز ، ورومبے چاپ، چاپ کال ، اکتوبر 2014 ، مخ 577

[3]. خليل، مذکر شاه، د عبدالخالق خليق، ژوند او ادبي خدمات، لاهور، ملت پرنټرز، اول چاپ، چاپ کال 2001، مخ 186

[4]. کريم ، فضل، خدائي خدمتګار (ډرامه)، پېښور، امن پرنټنګ پرېس، دوېم چاپ، جون ۲۰۱۲، مخ، ۵۲

[5]. هم دغه ، مخ **25**

[6]. هم دغه ، مخ ، 26-27

[7]. هم دغه ، مخ،33

[8]. هم دغه، مخ ، 51-52

[9]. خان ، عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد ، پېښور امن پرنټنګ پرېس، دوېم چاپ، 2012ء ، مخ 284

[10]. کريم ، فضل، خدائي خدمتګار (ډرامه) مخ ، 36

[11]. هم دغه ، مخ ، 38-39

[12]. هم دغه ، مخ ، 54

[13]. هم دغه ، مخ، 58 -57.